مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۵/۱۱/۲۲

# د لور د خرڅ روپۍ يې، د مکې د حج ټېکټ شو

## غزل

په بدو کې يې ورکړه پرېښتې غونډې نجلۍ
ها دنګه د جنت د منارې غونډې نجلۍ

د لور د خرڅ روپۍ يې د مکې د حج ټېکټ شو
طواف نه يې قربان کړه د کعبې غونډې نجلۍ

قسم په سيپارو کړي او په لفظ يې نه پوهېږي
مکتب نه شوه محرومه سيپارې غونډې نجلۍ

د وينو فوارو کې لمبېدلې له وحشته
سپېڅلې د اوبو د فوارې غونډې نجلۍ

بې وسه پلار د لورې نه راويستې ده بازار ته
باوره !ها د لمر د پلوشې غونډې نجلۍ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ